# د رحمان بابا د سیاسي، تاریخي شعور یوه تحقیقي مطالعه

## Rehman Baba's political vision and historical consciousness: A research and critical study

Muhammad Din, Dr. Javed Iqbal*

## ABSTRACT

Rehman Baba is one of the stalwart celebrities of the Pashto classical poets. He earned fame is a Sofi Poet in Pashtun society. Various scholars shed light on different aspects of his poetry in general and analyzed his sofi thoughts in particular. Apart from the aforesaid poetical dimensions, Rehman Bab's poetry depicts political consciousness of his era along with historical vision but the literatiare not more intended to explore his historical vision in their research-oriented writings. In this article an effort has been made to explore Rehman Baba's political vision about the then historical events as portrayed in his poetry. A number of specimens from his poetry are quoted with analytical approach to clarify these important angles of Rehman Baba's poetry in order to prove logically that he was not only a Sofi poet but was more aware intellectual and vigilant individual in term of political and historical consciousness.

**Keywords:** historical vision, Pashto, political consciousness, Rehman Baba.

د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د تاریخي شعور جاج اخستلو نه وړاندې د تاریخي شعور د اصطلاح وضاحت او ورسره ورسره د تاریخ او شاعرۍ په تعلق او اهمیت بحث ضروري دے او د دغه بحث په رڼا کښې به مونږ د رحمان بابا په سیاسي تاریخي شعور خپله تجزیه وړاندې کوو.

تاریخي شعور یوه داسې اصطلاح ده چې په خپله دغه دوه توري یعني تاریخ او شعور یې وړومبے وضاحت او پېژندګلو کوي، خو د دغو دوو تورو را سپړدل د تاریخي شعور په څرګندولو کښې لازیاته مرسته کوي. کله چې د "تاریخ" په حقه څرګندې اشارې وۀ شي نو "شعور" په خپله دغه اصطلاح نوره هم واضحه کوي، خو د "تاریخ" په وضاحت کښې هم باید د "تاریخ" د لغوي او اصطلاحي مفهوم څرګندونه، د تاریخ حېثیت او اهمیت، د تاریخ موضوع او مقصد هم په لنډو ټکو کښې جوت شي نو بیا به د تاریخي شعور اصطلاح په زیات صراحت سره مخې ته راشي.

هسې خو تاریخ د تېر وخت واقعاتو او داستان ته وئیلے شي خو د تاریخ عالمانو د دې اصطلاح وضاحت، لغوي او اصطلاحي مفهوم د یو باقاعده علم او سماجي یا ټولنیزې پوهې په حېث کړے دے چې ورسره د تاریخ اهمیت، مقصد او حېثیت هم څرګند کړے شوے دے، مونږ وړومبے د دغو عالمانو، دانشورو او تاریخ دانو په حواله د دې اصطلاح څرګندونه کوو او ورسره د تاریخي شعور، د تاریخ او شاعرۍ او بیا د تاریخ سره د رحمان بابا د شاعرۍ په تعلق او تړون هم تبصره کوو. د تاریخ پوهنې په اړه مسلمانانو تاریخ دانانو ډېر د قدر وړ کار کړے دے چې یو پیاوړے لیکونکے پکښې د نهمې صدۍ هجرۍ تاریخ دان شمس الدین محمد بن عبد الرحمان السخاوي هم دے، دغه لیکوال په "سخاوي" مشهور دے چې په عربۍ ژبه کښې یې د "الاعلان بالتوبیخ" په نوم یو یادګار کتاب لیکلے دے، دغه کتاب ډاکټر سید محمد یوسف د "تاریخ کی کتاب" په نوم اردو کښې ژباړلے دے چې مونږ ترې دلته استفاده کوو او د تاریخ په وضاحت، تعریف، اهمیت او ضرورت ترې څو حوالې را اخلو او ورسره د څو نورو دانشورو نه هم استفاده کوو.

### تاریخ څۀ ته وایي:

M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta
*Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

لکه چې وړاندې ورته اشاره شوې ده چې تاریخ د تېر وخت د واقعاتو، حالاتو، حادثاتو او معلوماتو بیان ته وئیلے شي خو السخاوي په خپل کتاب کښې د "تاریخ" په لغوي او اصطلاح مفهوم کښې چې کوم بحث او تبصره کړې ده د هغې تر مخه د تاریخ لغوي مفهوم په دې ډول دے.

"لغت میں تاریخ کے معنی ہیں، وقت کی نشان دہی، "ارخت الکتاب وورخہ" بول کر مراد یہ ہوتی ہے کہ میں نے کتابت کا وقت درج کر دیا. جوہری کا کہنا ہے: تاریخ کے معنی ہیں وقت بتانا، تاریخ اور توریخ دونوں ایک ہیں، "ارخت" بھی بولتے ہیں اور "ورخت" بھی کہا جاتا ہے، یہ ازخ (ہمزہ پر زبر اور زیر دونوں جائز ہیں) سے مشتق ہے جس کے معنی ہیں وحشی گائے کے چھوٹے مادہ بچے، اس لیے کہ تاریخ بھی اسی طرح تازہ بہ تازہ ظہور پذیر ہوتی ہے، جیسے کہ بچے"(1).

د دغه لغوي مفهوم بیانولو په ضمن کښې السخاوي د تاریخ په حقله د مختلفو تاریخ دانانو او دانشورو ځو نورې حوالې هم بیانوي چې خلاصه یې په دې ډول ده.

"ابو الفرج قدامہ بن جعفر الکاتب اپنی "کتاب الخراج" میں لکھتے ہیں کہ کسی حیز کی تاریخ سے مراد ہوتا ہے اس کا آخری سرا، اسی لیے اس وقت تاریخ بتاتے ہیں جس میں مشہور واقعات رونما ہوئے. صوفی کا بھی یہی کہنا ہے کہ کسی حیز کی تاریخ سے مراد ہے اس کی وہ انتہا اور وقت جہاں تک زمانے کا سرا پہنچتا ہے. اسی بنا پر کہا جاتا ہے کہ فلاں اپنی قوم کی تاریخ ہے، اس کے ایک معنی تو یہ ہوتے ہیں کہ قوم کی عزت اس پر ختم ہوتی ہے، مطرزی نے یہی معنی لیے ہیں اور اس بات کو ملحوظ رکھا ہے کہ تمام کارہائے نمایاں، کرم فخر وغیرہ. اسی کی طرف منسوب ہوتے ہیں، دوسرے معنی یہ لیے جاتے ہیں کہ اس کو اخبار اور متعلقہ باتیں خوب یاد ہیں"(2).

او دغسې هغه د تاریخ اصطلاحي مفهوم ته راځي او وړاندې لیکي چې:

"اصطلاح میں اس کے معنی ہیں وقت بتا کر سارے احوال کو معین کرنا مثلاً راویوں اور اماموں کی ولادت، وفات، صحت عقل وبدن، رحلت وحج، حفظ و یاداشت، سچائی پر اعتماد (تویق) اور عدم اعتماد (تجریح) الغرض اس قسم کی تمام وہ باتیں جو ابتدائی، درمیانی اور مابعد کے زمانے میں ان کے حالات کی جستجو سے بر آمد ہوتی ہیں، اسی ذیل میں مختلف حوادث اور بڑے بڑے واقعات بھی آتے ہیں، مثلاً کسی بلا کا پھٹ پڑنا، کوئی نیا فرض عائد ہونا، نئے خلیفے اور وزیر کا آنا، کوئی غزوہ جنگ یا لڑائی، کسی شہر کا فتح ہونا اور زبردست کے قبضے سے نکلنا، حکومت کا ایک ہاتھ سے دوسرے ہاتھ چلا جانا، بسا اوقات اس کو یہاں تک وسعت دی جاتی ہے کہ آفرینس خلق اور نبیوں کے قصے بھی آجاتے ہیں، اسی طرح گذشتہ امتوں کی باتیں، قیامت کے حالات اور اس سے قبل رونما ہونے والے واقعات، نیز اس سے کم درجے کی باتیں جو مشہور ہوں، عام مشاہدے میں آئیں، اور جن سے سبھی لوگ فائدہ اٹھاتے ہوں، مثلاً مسجد، مدرسہ، پل اور سڑک کی تعمیر، یا پھر وہ امور جن کے اسباب ظاہر نہیں ہوتے، خواہ وہ حادثات سماوی ہوں جیسے ٹڈی دل، چاند گرہن، سورج گرہن، یا حادثات ارضی جیسے بھونچال، آگ، سیلاب، طوفان، قحط، طاعون، وبا اور دیگر بڑے حادثات و عجائبات. الغرض یہ وہ فن ہے جس میں سارے زمانے کے واقعات سے بحث کر کے ان کی تحدید اور وقت کا تعین کیا جاتا ہے، یوں کہنا چاہئے کہ اس میں ساری دنیا کے واقعات سے بحث ہوتی ہے"(3).

د نهمې صدۍ هجرۍ د دغه لوی او پیاوړي لیکوال او تاریخ دان السخاوي نه علاوه د نوي عصر تاریخ دانو هم د تاریخ په وضاحت او اهمیت تبصره کړې ده چې پکښې مغربي او مشرقي دواړه ډلې شاملې دي، د مشرق په لیکوالو کښې د موجوده دور تاریخ دان ډاکټر مبارك علي د قدر وړ کار کړے دے چې د تاریخ پوهنې ګڼ اړخونه یې روښانه کړي دي، هغهٔ په خپلو لیکونو کښې د تاریخي شعور په اړه هم اشارې کړې دي او د انساني شعور د ارتقاء سره یې د تاریخي شعور لړۍ هم تړلې ده، ډاکټر مبارك علي د انسان او تاریخ په وړومبو نخښو چې خبره کوي نو ورسره د ابتدائي شعور نخښې هم ښائي، دې لړ کښې هغه وړومبے خو د انساني شعور او تهذیبي ارتقاء په اړه وضاحت کوي او لیکي:

"انسان جب تک انفرادی حیثیت سے اس کائنات میں اپنی بقاء کی جنگ لڑا، اس کی ذات فطرت کی پیچیدگیوں میں گم ہوگئی اور وہ کوئی تاریخ تشکیل نہیں کرنے پایا، لیکن جب انسان نے اجتماعی حیثیت سے زندگی گزارنی شروع کی تو اس نے ان افراد کو یاد رکھنا شروع کر دیا، جنھوں نے فطرت کے خلاف مزاحمت کی تھی، اور اپنے ساتھیوں، اور گروہوں کا آفات وبلائے آسمانی سے تحفظ کیا تھا ان افراد کے یہ کارنامے معاشرہ کی اجتماعی یاد داشت کا ایک حصہ بن گئے، اس کے علاوہ انسان جو کچھ اس دنیا میں سیکھتا رہا وہ ان تجربات کو کہانیوں، گیتوں اور قصوں کے ذریعہ ایک نسل سے دوسری نسل کو منتقل کرتا رہا، اور یہی قصے و کہانیاں شاعرانہ تخیل کے ساتھ طویل رزمیہ نظموں میں تبدیل ہوگئے اور ادب میں لافانی شکل اختیار کر گئے ان قصے، کہانیوں اور رزمیہ نظموں نے ماضی سے رومانوی لگاؤ کو پیدا کیا اس کے نتیجہ میں حقیقی واقعات نے افسانوی رنگ اختیار کر لیا اور حقیقی انسان دیوی، دیوتا اور مافوق الفطرت ہستیاں بن گئیں"(4).

او بیا چې په ټولنه کښې د انسان اجتماعي او ټولنیز ژوند ته راځي نو ورسره د تاریخي شعور د ارتقاء لړۍ هم را نښلوي او داسې وضاحت کوي:

"اجتماعی انسانی زندگی میں جب معاشرہ طبقوں اور مراعاتی خاندانوں میں تقسیم ہوا تو شاہی خاندان کے افراد نے خصوصیت سے اپنی عظمت اور بڑائی کو باقی رکھنے کی خاطر خاندانی شجرے محفوظ کرنا شروع کر دیے، اس قسم کے شجرے اول اول سومیریا اور مصر میں لکھے گئے، اور ان شجروں میں جن افراد نے کوئی کارنامہ سر انجام دیا تھا تو اس کو بھی شامل کر دیا گیا، اس کے ساتھ حکمرانوں کے عہد میں ہونے والے اہم حادثات و واقعات کو بھی لکھ دیا جاتا تھا، چونکہ اس وقت تک تقویم، یا سنہ کی دریافت نہیں ہوئی تھی، اس لیے سال کی ابتدا کسی اہم واقعہ سے کی جاتی تھی، ابتدائی تاریخ نویسی کے یہ نمونے پتھروں پر تحریر کی شکل میں ملے ہیں، ان کتبوں پر شہروں کی فتوحات اور ان کی تباہی کی تاریخ، حکمرانوں کے سال جلوس اور مرنے کی تاریخ اور دیوتاؤں کے نام دعائیں اور مناجاتیں ہیں"(5).

د واقعاتو، حادثاتو او تهذيبي ارتقاء دغه داستان چې دانشور او تاريخ دان محفوظ کوي نو ګويا چې د تاريخ نويسۍ عظيم مقصد تر سره کوي او بيا چې د دغه عظيم مقصد سره د ليکوال او تاريخ دان تاريخي شعور او تهذيبي پر مختګ هم ملګرے شي نو د تاريخ نويسۍ اصل او بنيادي اهداف ترلاسه کېږي چې ډاکټر مبارك علي ورته په دې الفاظو اشاره کوي:

"تاریخ نویسی سے معاشرے کی تبدیلیوں کا پتہ چلتاہے ایک قوم جب تک اپنے علاقہ میں محدود رہتی ہے اس کی دلچسپی اور معلومات اپنے علاقہ تک رہتی ہیں اور اسے صرف اپنی تاریخ کا علم ہوتا ہے، لیکن جب یہی قوم تجارت، سفارت اور جنگوں کے ذریعہ دوسری اقوام سے واقف ہوتی ہے تو اس کی تاریخی معلومات کا دائرہ بھی بڑھ جاتا ہے اور دوسری اقوام کی تاریخ اس کی تاریخ کا ایک حصہ بن جاتی ہے، اس تاریخ نویسی کے ذریعہ معاشرہ کی تجارتی سرگرمیوں، ثقافتی ارتقاء اور سیاسی فتوحات و شکستوں کا پتہ چلتاہے"(6).

دغه بنيادي مقصد ته چې اشاره وۀ شي په حقيقت کښې د تاريخي شعور ترجماني کوي چې ورسره د تاريخ دان دیانتداري، رښتونولي او صداقت او پوره ايمانداري په اهمو شرائطو کښې شامل دي. هرکله چې تاريخ دان د رښتيا او صداقت لمن پرېږدي، د مختلف قسمه مصلحتونو ښکار شي نو ګويا چې د تاريخي شعور خړګندونه نۀ کوي لکه چې مغربي دانشور لډل هارټ ورته اشاري کړي دي او مونږ ترې د ډاکټر مبارك علي د اردو ترجمې سره استفاده کوو. په اردو کښې د لډل هارټ کتاب د "ہم تاریخ سے کیوں نہیں سیکھتے" په عنوان چاپ دے چې په دغه کتاب کښې په يوه موقع داسې ليکي:

"تاریخ سے ہم نے یہ سیکھاہے کہ ہر زمانے اور ہر دور میں کسی بھی علاقہ کے رہنے والوں کی اکثریت کے سامنے اگر ان کے اداروں پر تنقید کی جائے یا ان کی کمزوریاں بتائی جائیں تو وہ اسے ناپسند کرتی ہے. ہم نے یہ بھی سیکھاہے کہ جب لوگ سچائی کو تسلیم نہیں کرتے تو ان کے اس عمل سے جھوٹ کو نہ صرف تقویت ملتی ہے بلکہ اس کے خراب اثرات بھی سامنے آتے ہیں. ہم اپنی زندگی میں بہت کم ایسے لوگوں سے ملتے ہیں کہ جو کسی بات کو سن کر یہ کہتے ہیں "کیا یہ سچ ہے "جب تک آدمی کے ذہن میں سچائی پوری طرح سے موجود نہ ہو، اس وقت تک صحیح معنوں میں ترقی ناممکن ہے"(7).

لډل هارټ په دغه کتاب کښې د تاريخي شعور په اړه د رښتيا او صداقت د بنيادي عناصرو سره سره يوه بنيادي نکته بله هم را مخې ته کوي او وائي چې د رښتنولۍ او مستند تاريخ دپاره سائنسي طرز فکر او د جذباتو نه په ډډه پاتې کېدل هم ضروري دي، د هغۀ الفاظ داسې دي:

"ایک دانشور کو احساس کرنا چاہئے یہ دنیا جذبات کی بنیاد پر تشکیل پذیر ہوئی ہے. جذبات کہ جو عقل سے بھی کنٹرول نہیں ہوتے. اگر وہ اس چیز کا احساس نہیں کرتا تو سوچ اور مشاہدہ سطحی ہو جاتے ہیں، لیکن ایک مرتبہ جب وہ عقل کی بنیاد پر سوچنا شروع کر دیتا ہے تو پھر وہ جذبات کی رو میں بہتا نہیں ہے"(8).

هم دغه تاريخي شعور دے چې کله ئې تاريخ دان خيال نۀ ساتي نو تاريخ نه افسانه جوړه شي او د اعتبار وړ پاتې نۀ شي. د تاريخي شعور د فقدان په نتيجه کښې تاريخ څومره بې سنده او بې اعتباره شي؟. دغه حېثيت ئې ښاغلي سعد الله جان برق په خپل کتاب "د پښتنو د تاريخ بنيادونه" کښې په دې توګه ښائي:

"د ټولو نه اول زۀ د هغۀ څيز په باره کښې څۀ وئيل غواړم چې په روايتي توګه ورته تاريخ يا انساني تاريخ وئيلے شي، چې بې شماره بې قطاره کتابونه ترې نه ډك دي، په نصابونو کښې شامل دي. لوئې ډګرۍ پرې خلګ ورکوي او اخلي، بحثونه پرې کېږي او غټ غټ ماهرين او علامه ګان پرې د هر طرف نه رناګاني اچوي، څوك ورته فلسفه وائي، څوك ورته د سائنس نوم ورکوي او په علومو کښې په ډېر زور شور سره ذکر کېږي. د علامه عبد الرحمٰن ابن خلدون نه تر ټوائن بي پورې يې د انسانانو سره ئې لاژم او ملزوم ګڼي. خو که د نن په رڼا رڼا دور کښې ورته وکتلے شي، نو نور خو هرڅۀ کېدے شي خو تاريخ نۀ شي کېدے، زمونږ په نزدې نزدې زمانه کښې د علم او معلوماتو، انکشافاتو او ايجاداتو يو دومره تېز طوفان راغلے دے چې ډېر ډېر روايتي برجونه چې د صدو راهيسې په عقيدو کښې شامل ؤ هغه يې د بېخه وړول، بې شماره منلي شوي حقيقتونه وهم او فرضې ثابت شول او بې شماره توهمات او تخيلات حقائق ثابت شول. نن انسان هغه عام انسان نۀ دے چې په قصو او داستانونو به مطمئن کېدو او هرڅۀ به ئې په پټو سترګو منل، بلکې د نن انسان نۀ صرف يو قابل انسان دے، په ډېر څۀ پوهېږي، پوه شوے دے او بل دا چې د بې حسابه حقائقو د غلط ثابتېدو په وجه ډېر زيات شکي شوے هم دے، داسې به ووايو چې انسانيت او انساني علوم د يقين اخري درجې ته رسېدلي دي او يا رسېدل غواړي"(9).

په خپل دغه کتاب کښې برق صاحب د عمومي انساني تاريخ کړي، بې سنده ګڼي او اعتبار پرې نۀ کوي، تر دې چې هغه موجوده تاريخ ته هډو تاريخ نۀ وايي او داسې ليکي:

"په انساني تاريخ کښې هم چې د يقين په رڼا کښې غور وکړو نو د يقين په اوله درجه کښې دے، صرف د "فلاني وئيل" ئې بنياد دے او دا هم نۀ ګوري چې هغه فلانے څوك دے؟. زمونږ موجوده تاريخ په اصل کښې خود سره تاريخ دے نۀ او بيا خاص طور د انسانانو تاريخ خو بلکل نۀ دے، ځکه چې د دې تاريخ ټول ماخذات راجمع کړے شي نو صرف هغه دے چې د چا دغه تاريخ دے که هغه د مصر سنګي او تابوتي نوشتې دي که د بابل خاورينې تختۍ دي او که د هند ديو مالائي قصې دي، يو قسم له هغه مدحې دي چې ممدوح پخپله وئيلې دي، دغه کتبې او نوشتې هغه باشاهانو فاتحانو او مصروګانو يا خو پخپله ليکلې دي يا يې کاروباري حصه دارانو مذهبي بامبڼانو او يا ئې اولادونو ليکلي دي او

چې څهٔ ئې خوښ ۇ هغه يې پکښې ليکلي دي يا بيا وروسې په تاريخي او تحريري دور کښې چې څهٔ ليکلې شوې دي نو هم حکومتي ذريعو ليکلي دي، تنخوادارو منشيانو ليکلي دي يا د معاوضې دپاره ليکلي شوي دي، تاريخ فلاني خاني او تاريخ فلاني خاني"(10).

دا ولې؟ دا هرڅهٔ دې درجې ته په څهٔ وجه را رسي او د تاريخ غونډې اهم او ضروري سماجي علم حېثيت او مقام ولې را ټيټ شي، دا هرڅهٔ ځکه کېږي چې تاريخ دان د ليکلو په وخت د رښتيا او صداقت لمن نهٔ وي نيولې، تاريخ دان د ګڼ شمېر مصلحتونو ښکار وي. تاريخ دان په غير معياري او بې اعتباره سندونو اډانه لرلې وي. تاريخ دان د عقل، غور او فکر په ځاى د جذباتو ښکار شوے وي، تاريخ دان د مختلف قسمه تعصباتو ښکار شوے وي او داسې نور يو شمېر عوامل دي چې تاريخ دان ئې خيال نهٔ وي ساتلے نو د هغهٔ ليکلے تاريخ هم بيا هم دغسې بې اعتباره پاتې کېږي چې مونږ ورته په مجموعي توګه د تاريخي شعور فقدان وئيلے شو، که تاريخ دان د تاريخي شعور فقدان سره نهٔ وي مخ شوے او په هر قدم ئې د تاريخي شعور نه کار اخستے وي نو بيا به ئې تاريخ هم مستند او معتبر وي، ګويا صحيح او معتبر تاريخ ليکل د تاريخي شعور نه بغير امکان نهٔ لري. ځکه د تاريخ ليکنې دپاره بنيادي شرط د تاريخي شعور لرل دي.

### د تاريخ او شاعرۍ تعلق او اهميت

تاريخ او شاعري په سرسري نظر خو د يو بل نه بېل او لرې ښکاري ځکه چې په عمومي ډول شاعرۍ کښې د داخلي جذباتو اظهار کېږي چې د حسن اظهار په وجه او د بيان د ښايست له مخه په کښې د خيال او تصور او بيا مبالغې اثر ډېر جوت وي او بل خوا تاريخ ليکنه يو معروضي او سائنسي عمل دے چې د هر قسمه جذباتو او داخلي احساساتو نه پاك وي او د تخيل او تصور د دنيا نه لرې وي ځکه مبالغه هم نهٔ مني، په دغه توګه خو شاعري او تاريخ د يو بل نه لرې او په فاصله دي، خو لکه چې څرګنده ده د شاعرۍ مختلف مکتبونه او قسمونه دي، په دغو ادبي او شعري مکتبونو کښې مقصدي شاعري نهٔ خو مبالغه مني او نهٔ د خيال او تصور دنيا قبلوي. مقصدي شاعري د حقيقت پسندۍ لمن نيسي او زمکني حقيقتونو نه پرده پورته کوي، ځکه دغه قسمه مقصدي او حقيقت پسنده شاعري د تاريخي حقائقو سره نزدېکت لري چې مونږ په کښې د شعري تنقيد ځنې مکتبونه هم شاملولے شو، څنګه چې په مجموعي توګه ادب د ژوند ترجمان وي، دغسې د تنقيد ځنې مکتبونه هم د ژوند د حقيقتونو او ټولنيزو عواملو په ترجمانۍ زور ورکوي، کومه شاعري چې د خپل دور د سماجي حقيقتونو ترجماني کوي هغه په مستقبل کښې د تاريخ برخه جوړېږي، دا قسمه شاعري د مؤرخ د تاريخي بياناتو نه هم زياته مستنده او د اعتبار وړ وي ځکه چې شاعر او اديب د هر قسمه مصلحت نه ازاد په رښتونې توګه د عصري حقيقتونو ترجماني کوي، د شاعرۍ او ټولنې په تعلق د اردو نوميالي شاعر او نقاد الطاف حسېن حالي په مقدمه شعر و شاعري کښې تبصره کړې ده او شاعري ئې د ټولنې تابع ګڼلې ده، يعني څنګه چې ټولنه او د هغې حالت وي، هغسې په صادقانه شکل ئې شاعري ترجماني کوي. الطاف حسېن حالي داسې ليکلي دي:

"خو سره د دې ټولو خبرو چې د شعر په تائيد کښې وئيلې شوې دي، کېدے شي چې د معاشرې د دباؤ يا د زمانې د تقاضو د مخه په شعر داسې حالت راشي چې هغه په ځاى د قومي اخلاقو د اصلاح کولو د هغې د خرابولو او بربادولو يوه زبردسته ذريعه جوړه شي، دا قاعده ده چې څومره چې د معاشرې خيالات، د هغې رائې، عادتونه خواهشونه، ميلان او شوق بدلېږي، هومره د شعر حالت بدلېږي، دا تبديلي بلکل بې ارادې معلومېږي، ځکه چې د معاشرې د حالت سره شاعر قصداً او عمداً د خپل شعر رنګ نهٔ بدلوي بلکې هغه د معاشرې سره په خپله بدلېږي"(11).

دغه شان چې مونږ د شاعرۍ سره سره د ادبي تنقيد په لور توجه کوو نو هم ځنې تنقيدي او شعري مکتبونه د تاريخ سره نېغ په نېغه اړيکې لري چې په خصوصي توګه پکښې عمراني تنقيد او تاريخي تنقيد زمونږ مخې ته راځي، دې لړ کښې د استقرائي تنقيد يادونه هم ښاغلي سحر يوسفزي په خپل کتاب "ادب څهٔ دے؟" کښې کړې ده چې موازنه ئې تاريخي تنقيد سره کوي او دغه لړ کښې د مغربي دانشور شېرر حواله هم ورکوي. سحر يوسفزے داسې ليکي:

"شېرر تاريخي تنقيد راويست په کوم کښې چې د يو ليك کتنه د هغهٔ دور د تاريخي او سياسي حالاتو په رڼا کښې کېږي، د دې سره د ليکونکي چاپېرچل او د فطرت مطالعه هم کولے شي او په دې چل د هغهٔ ليك د ليکلو غرض د لوستونکو مخې ته راوستل شي، په دې کښې د هغهٔ ليکونکي زمانه او ذات دواړه کتلے شي، ولې د مولټن د استقرائي جاج په شانتې په دې کښې هيڅ فيصله نه شي کولے، د هغهٔ دا خيال دے چې د دې ټولو څيزونو مطالعه د دغه ليك په جاج کښې مرسته ضرور کوي ولې يو نقاد ته دا حق نهٔ شته چې ګڼي هغه په دې حقله د تشريعي نقاد په څېر يوه چورلټه فيصله وکړي"(12).

د سحر يوسفزي په دغه رائې ډاکټر حنيف خليل داسې تبصره کوي:

"په دې لحاظ په تاريخي تنقيد کښې يوه خبره په واضحه توګه زمونږ مخې ته راځي چې د تنقيد په دغه مکتب کښې د هغه زمانې د حالاتو، سياسي او سماجي اثراتو او تاريخي عواملو په نظر کښې ساتل ضروري وي، په کومه زمانه کښې چې د فنپارې تخليق شوے وي او دغسې تاريخي تنقيد کښې د نقاد فيصله ذاتي، داخلي او موضوعي هم وي چې اختلاف ورسره کېدے شي"(13).

او بيا د تاريخي تنقيد رشته د عمراني تنقيد سره ترې او ورانديې هم دغه ليکوال داسې ليکي:

"عمراني تنقيد د تاريخي دبستان سره ډېر نزدېکت لري بلکې دا وئيلے شي چې عمراني تنقيد د تاريخي تنقيد يوه برخه ده، په تاريخي تنقيد کښې د تخليق او فنپارو جاج د معاشرتي اقدارو، د تخليق د زمانې او نسلي خصوصياتو په رڼا کښې اخستلے شي. په عمراني تنقيد کښې دغو ذکر شوو اجزاوو کښې د يو جز معاشرتي اقدارو يا سماجي شعور تفصيلي مطالعه کولے شي، په دې تنقيدي مکتب کښې نقاد د تخليق کار د دور او زمانې د سماجي محرکاتو، سياسي اثراتو او د هغهٔ دور د ماحول د جزوي مطالعې هڅه کوي. مطلب دا چې فنپاره په کوم دور کښې تخليق شوې ده، د هغهٔ دور معاشرتي او سماجي محرکات په نظر کښې ساتلو سره د فنپارې د معيار تعين هم کېدلے شي او د دغه فنپارې او تخليق په مرسته د هغهٔ دور د ماحول او سماج مطالعه هم کېدلے شي. د سماج يا عمرانياتو ماهرانو دې قسمه تنقيد ته د عمراني تنقيد نوم ورکړے دے"(14).

د دغو حوالو په اسانه جوتېږي چې ادب په مجموعي توګه د ټولنيزو حالاتو او تاريخي ادوارو ترجماني کوي او شاعري په خصوصي توګه دغه وظيفه ترسره کوي. همدغه وجه ده چې د تاريخي واقعاتو، حادثاتو او حالاتو په بيان کښې د کومو حوالو او ماخذونو نه مرسته تر لاسه کولے شي، شاعري هم په هغې کښې يوه مضبوطه او اهمه حواله ده چې د تاريخي حقائقو په بيان کښې د ډېرې بنيادي ذريعې په توګه مخې ته راځي، په هم دغه تناظر کښې چې د هر دور او هر تهذيب سره تړل د هرې ژبې شاعري وځېرلے شي نو د ځينو اهمو تاريخي پېښنو نخښې را څرګندېږي. دې لړ کښې د يونان، چين، مصر او نورو ګڼ شمېر تهذيبونو شاعري د تاريخ پوهنې او تاريخي واقعاتو په ښودلو کښې ډېره زياته مرسته کوي او په هم دغه ډول د مشرقي ژبو شاعري او بيا د پښتو شاعري په خپله د مختلفو ادوارو ټولنيز حالات، واقعات او انساني روئيې را مخې ته کوي چې په نتيجه کښې يې په اسانه وئيلے شي چې د شاعرۍ او تاريخ ترون ډېر کلک دے او دغه کلک ترون ئې په خپله د تاريخ او شاعرۍ رشته، د دغه رشتې ضرورت او اهميت را مخې ته کوي چې په دغه تناظر کښې مونږ د رحمان بابا په تاريخي شعور بحث کوو.

## سياسي حالات او تاريخي شعور

رحمان بابا د شاعر انسانيت په نوم شهرت لري چې دغه د انسانيت پېغام ئې يو خوا خو د تصوف او معرفت په لور د محققينو توجه اړوي خو بل طرف ته د انسانيت او ټولنې په ګټو اړخونو هم د رحمان بابا شاعري زمونږ لارښودنه کوي. د انسان په دغه ټولنيز ژوند کښې په مجموعي توګه خو د رحمان بابا پېغام د خېر ښېګړې مينې او ورورولئ درس ورکوي خو ورسره د دغه انساني ورورولئ، مينې او خېر د پېغام په وسيلې رحمان بابا ځينو تاريخي واقعاتو او حالاتو ته هم د لوستونکو توجه را اړوي چې په حقيقت کښې د رحمان بابا په تاريخي شعور دلالت کوي.

لکه چې وړاندې وضاحت شوے دے چې رحمان بابا د انساني ټولنې په ګټو اړخونو ژور نظر لرلے دے او د خپل عصر د ګټو تاريخي پېښنو ترجماني ئې په خپله شاعرۍ کښې کړې ده. دغو ټولنيزو حالاتو کښې رحمان بابا د خپل عصر ځينو سياسي حالاتو ته هم نظر کړے دے او په خپله شاعرۍ کښې ئې د خپل عصر د دغه سياسي حالاتو ترجماني کړې ده. رحمان بابا د مغل حکمرانانو شاه جهان او اورنګ زېب عالمګير زمانه ليدلې وه او بيا د اورنګ زېب د وفات نه پس د هغهٔ د زامنو شاه عالم او اعظم ځينې جنګي واقعات هم په مشاهده کښې راغلي وو چې د دغو ټولو حالاتو او مشاهداتو يادونه ئې په خپله شاعرۍ کښې کړې ده. دغه شان رحمان بابا د پېښور د سياسي او سماجي حالاتو يوه نقشه په داسې انداز را ښکلې ده چې پخپله ترې د رحمان بابا د سياسي او تاريخي شعور څرګندونه ډېره په اسانه کېدے شي. د رحمان بابا د سياسي او تاريخي شعور په وضاحت کښې مير عبد الصمد خان په خپل اردو کتاب "شاعر انسانيت" کښې ليکي چې رحمان بابا په خپل ذات کښې لکه د خوشحال خان ختك سياسي سړے نهٔ وُ، خو بيا هم هغهٔ د شاه جهان او اورنګ زېب د دور په سياسي حالاتو تبصره کړې ده. مير عبد الصمد خان دغه حالات د رحمان بابا په حواله داسې بيانوي:

"رحمان بابا خوشحال خٹک کی طرح سیاسی آدمی نہ تھے، وہ ایک گوشہ نشین درویش، خاموش عالم اور عزت پسند ادیب تھے، لیکن ایک حساس عالم اور ایک صاحب دل مفکر و ادیب کی حیثیت سے اورنگزیب کے دور اور اس کے بعد کی مزید حالت زار ان سے بھی نہ دیکھیں گئی اورنگ زیب کے بارے میں ان کے ذیل کے اشعار سے یہ اندازہ کیا جاسکتا ہے کہ مسلمانوں کے سیاسی زوال کی ابتدا انہی کے عہد میں ہو چکی تھی"(15).

د دغه وضاحت نه پس میر عبد الصمد د رحمان بابا په هغه تاریخي نظم تبصره کړې ده چې په کښې د اورنګ زېب عالمګیر د دور د سیاسي حالاتو جائزه اخستې شوې ده، دغه تاریخي نظم پېش کول ضروري ګڼم چې د دغه طویل نظم وروستۍ برخه په دې ډول ده:

"اورنګ زېب هم یو فقیر ؤ :: چې ټوپۍ ئې وه پر سر
و ټوپۍ و ته ئې شا کړه :: چې قادر شه په افسر
هو ئې هومره فقیري وه :: چې څۀ نۀ ؤ میسر
چې فلك ئې یاري وکړه :: نور ئې ملك کړ مسخر
ګوره څۀ چارې ئې وکړې :: په عیال د خپل پدر
وار په وار ئې تر تېغ تېر کړ :: د خرم تمام ټبر
یو ټبر د خرم څۀ ؤ :: ډېر عالم یې کړ ډبر
تمامي جهان یې ونغړد :: چې ئې لاس شه باندې بر
په فرېب فرېب ئې خپل کړه :: بېجاپور او باګ نګر
بېجاپور باګ نګر څۀ وو :: لا جنجے او جینجاور
هم ئې هند په ډکه واخیست :: هم کابل هم پېښور
بیا ئې ذکر شوه په زړۀ کښې :: بادشاهي د هفت کشور
له حرصه ورته هیڅ شو :: هم دارا هم اسکندر
خیال یې دا ؤ په خاطر کښې :: چې به خپل کړم بحر و بر
باري ورځ ورڅخه لاړه :: وخت پرې راغے نمازدیګر
نۀ ئې مراد د زړۀ حاصل شۀ :: نۀ یې یخ کړ خپل ټټر
همګي شو څنې پاتو :: که ئې ملك ؤ که لښکر
خالي لاس له دنیا ووت :: لکه عین دروېزه ګر
له دنیا ئې هیڅ یو نۀ وړۀ :: مګر شو ئې یو څادر
خوار حیران په زمکه پرېوت :: بې بالین او بې بستر
نۀ پوزے شوۀ تر دۀ لاندې :: نۀ تر لاندې شۀ ټغر
د بنې په څېر خفیف شۀ :: چې ثقیل ؤ لکه غر
د سېلاب په مخکښې لاړ شۀ :: لکه خس وي یا وزر
حق ئې پاتو په ګردن شۀ :: د سپائي او د چاکر
اوس ئې زۀ په ورح دعا کړم :: که ئې خدای کا بهرور
حق تعالیٰ ئې په نصیب کړه :: شېرین حوض د کوثر
د جنت په خوشبوۍ ئې :: خدای دماغ کړه معطر
په درست هند باندې ئې حق ؤ :: هند یو شپه وه دے ئې نمر
د دې نمر په روشنائیه :: تمام هند ؤ منور
په رڼا ئې خلقو زیست کړ :: نۀ څۀ خوف ؤ نۀ خطر
خو چې مخ ئې په غروب کړ :: نور پیدا شۀ شور و شر
چې په نام د اورنګ زېب ؤ :: وخوړ ګاؤ هغه دفتر
اوس نوبت د شاه عالم دے :: دور طور شه دګر
خدای زده څۀ بازي شي پېښه :: عاشوره شي که اختر
رنګارنګ بازۍ کاندې :: دا اسمان دے بازیګر

گهې تلخ شي لکه زهر :: گه شېرين لکه شکر
څۀ چې وشو هغه وشو :: لا به کېږي مقدر
ما خو نوم د اورنگ واخيست :: دا احوال دے د هر هر
هر سړے د خپلې خونې :: هم بادشاه دے هم سرور
هرچه اصل د دنيا دي :: واړه هسې دي اکثر
دا بيان دور و دراز ؤ :: رحمان وکړ مختصر"(16)

په دغه نظم د مير عبد الصمد خان تبصره په دې ډول ده:

"مندرجہ بالا اشعار اس زمانے کی صورت حال کی صحیح تصویر پیش کرتے ہیں، رحمان بابا اورنگ زیب کی وفات کے بعد بھی زندہ رہے اور شاہ عالم کا دور بھی انہوں نے دیکھا، اس لئے وہ اس وقت کے حالات وواقعات کے عینی شاہد ہیں، رحمان بابا کو اورنگ زیب سے کوئی ذاتی پر خاش نہ تھی اور نہ خوشحال خان خٹک کی طرح کوئی سیاسی آدمی تھے بلکہ انہوں نے تو اورنگ زیب کو دعائے خیر سے یاد کیا ہے، انہیں ہندوستان کی شب دیجور کا آفتاب وماہتاب بھی بتایا ہے اور یہ بھی کہا ہے کہ اورنگ زیب کے زمانے میں امن قائم تھا. لیکن ان کے گزر جانے کے بعد تو فسادات اوخونریزیاں شروع ہوگئی ہیں، انہوں نے اورنگ زیب کا تو صرف نام لیا ہے ویسے اس زمانے کے ہر شخص کا یہی حال تھا، یہاں رحمان بابا نے مسلمانوں کے زوال کی طرف واضح اشارہ کیا ہے، گویا اورنگ زیب کا دور بھی خرابیوں اوبد عنوانیوں کا دور تھا، زوال کی ابتدا انہی کے دور سے ہوئی تھی، لیکن ابھی پانی سر سے نہیں گزرا تھا، حقیقت میں اورنگ زیب نہ تو ان خرابیوں کا سبب تھے اور نہ ان کا کوئی اپنا قصور تھا، ان کے عہد میں تمام مسلمانوں کی حالت بہت پست ہو چکی تھی، اورنگزیب اکیلے کر بھی کیا سکتے تھے، زوال دراصل کسی بادشاہ یا سلطنت کو نہیں آیا تھا بلکہ بادشاہت اور سلطنت قائم کرنے والے مسلمان روبہ زوال تھے، شاہ عالم یا اس کے جانشین نالائق تھے تو احمد شاہ ابدالی جیسا نیک عالی ہمت اور مسلمانوں کا خیر خواہ مجاہد دہلی فتح کر کے کیوں واپس چلا گیا، ظاہر ہے احمد شاہ اکیلے کچھ بھی نہیں کر سکتے تھے، جب ہندوستان کے مسلمانوں دوں ہمت اور بیکار ہوگئے تو شیر دل سے شیر دل بادشاہ اور جری سے جری جرنیل بھی ان میں زندگی کی روح نہیں پھونک سکتا"(17).

د دغه بحث په خلاصه کښې مير عبد الصمد د رحمان بابا د ذکر شوي نظم نتيجه دا را وباسي چې د اورنگ زېب دور حالات د اخلاقي زوال ښکار شوي وو او رحمان بابا په حقيقت کښې دغه اخلاقي زوال ته اشاره کړې ده، هغه وړاندې خپله نتيجه داسې ښائي:

"رحمان بابا نے دراصل مسلمانوں کی دولت وسلطنت کی زوال کا رونا نہیں رویا ہے بلکہ ان کے اخلاقی زوال کا ماتم کیا ہے، وہ دیکھ رہے تھے کہ مسلمانوں کی بادشاہت موجود ہے لیکن اعلیٰ کردار عنقا ہے، روح اسلام غائب ہے اور قوم ان تمام بیماریوں میں مبتلا ہے جس کا نتیجہ موت کے سوا اور کچھ نہیں ہو سکتا. ایسے دور میں عالموں یا شاعروں اور ادیبوں کے دو گروہ ہو سکتے تھے، ایک تو بالکل قنوطیت کا گروہ جنہوں نے منفی قسم تصوف کے دامن میں سکون حاصل کرنا چاہا اور دوسرا بیابان کی شب تاریک میں قندیل ربانی بن کر رہنمائی کرتا اور نئی راہیں پیدا کرتا رہا، رحمان بابا مؤخر الذکر گروہ سے تعلق رکھتے ہیں انہوں نے سخت تاریکی میں اپنا چراغ جلایا اور سخت طوفانوں اور باد مخالف کے تند و تیز جھونکوں میں اسے بجھنے نہیں دیا"(18).

مير عبد الصمد خان يوازې د اورنگ زېب عالمگير حالات نۀ يادوي بلکې د رحمان بابا د شاعرۍ په حواله د پېښور د مجموعي سياسي حالاتو په لور هم اشارې کوي چې په خپل کتاب کښې پرې په دې الفاظو تبصره کوي:

"رحمان بابا کا دور اس اعتبار سے خاصا اہم تھا کہ اس کے اواخر میں مغربی ممالک کی تجارت کا سلسلہ شروع ہو چکا تھا اگرچہ رحمان بابا کے دیوان میں اس کا ذکر کہیں نہیں ملتا، حکومت مسلمانوں کی تھی لیکن جگہ جگہ جنگ وفساد بغاوتوں اور سرکشیوں کا بازار گرم تھا، زندگی کا مزہ اور لطف باقی نہیں رہا تھا، بد انتظامیوں کا دور دورہ تھا اور لوگوں میں ہراس ومایوسی اور دل شکستگی پھیل چکی تھی، رحمان بابا کے اس مشہور شعر سے معلوم ہوتا ہے کہ پشاور میں بھی سختیوں اور مظالم کا دور تھا"(19).

د رحمان بابا د شاعرۍ په حواله چې د هغۀ د دور د سياسي حالاتو په لور کومې اشارې وشوې په دغه حقله زمونږ دانشورو او څېړونکو تفصيلي تبصرې کړې وې او ورسره ئې د رحمان بابا د دغو شعرونو حوالې هم ورکړې دي چې د سياسي حالاتو په حواله د رحمان بابا د تاريخي شعور څرگندونه ترې کېږي، نوميالے دانشور ښاغلے سليم راز صاحب د رحمان بابا د دور په سياسي حالاتو کښې د مغل حکمرانانو شاه جهان او اورنگ زېب د دور د حالاتو نقشه د رحمان بابا د شاعرۍ په حواله پېش کوي او وړاندې ذکر شوو حالاتو ته د رحمان بابا د شعر په رڼا کښې گوري او داسې تبصره کوي:

"د رحمان بابا د دور نه مخکښې په برصغير کښې د پښتنو دوه ستر قومي او عوامي تحريکونه تېر وي وو چې په ادبي او سياسي محاذونو ئې خپل ژور خاپونه پرېښي وو، وړومبے تحريک د بايزيد انصاري المعروف پير روښان ؤ، چې د شهنشاهيت او جاگيردارانه نظام خلاف په يو وخت په قومي او طبقاتي بنيادونو ولاړ ؤ، خو شکل ئې مذهبي او صوفيانه ؤ، دوېم ستر تحريک د خوشحال خان خټك او د هغۀ د ملگرو دريا خان او ايمل خان ؤ چې د مغلي امپيريلزم د جبر او استبداد خلاف ؤ، دې دواړو تحريکونو يو طرف ته په پښتنو کښې د قومي ازادۍ او سياسي

بیداري شعور پیدا کړے ؤ او بل طرف ته ئې د مغلي استعمار په ماڼۍ کښې زلزله راوستې وه، ورسره ورسره ئې په پښتو ادب هم خپل اثرات غورزولي وو. رحمان بابا د خپلې زمانې د حالاتو او واقعاتو نه په ښۀ شان خبر ؤ او ډېر ژور سیاسي شعور ئې لرلو، ځکه خو په ډاګه ئې وئیل چې:

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور او پېښور درې واړه یو دي

هغۀ د مغلو د ګولډ اینډ ګنز (Gold and Guns) په پالیسۍ تنقید کولو، د اورنګ زېب د جبر او تشدد، د اقتدار د حرص او هوس او د چل او فرېب هتهکنډو مذمت کولو، بعضو مفاد پرسته مؤرخینو اورنګ زېب د اسلام چیمپېن ګرځولو دپاره د اقتدار هوس جائز ګرځولے دے، د هغۀ په ذاتي کردار او عمل ئې سترګې پټې کړې دي او د هغۀ په بهیمانه خصائلو ئې پرده اچولې ده، حالانکې هغۀ د اقتدار دپاره خپل پلار اووۀ کاله قېد تنهائي کښې ساتلے ؤ، خپل وروڼه ئې تهه تېغ کړل، خپل زوی او نور ئې بندیوان کړل، دغه شان د پښتنو قتل عام ئې هم وکړو، نو د رحمان بابا غوندې حساس شاعر کله خاموش پاتې کېدے شو"(20).

سلیم راز صاحب د شاه جهان او اورنګزېب د دور د حالاتو تصویر کشي سره سره د اورنګ زېب عالمګیر د زامنو شاه عالم او اعظم یادونه هم کوي او د رحمان بابا د تاریخي شعور بازګشت داسې څرګندوي:

"د اورنګ زېب عالمګیر دور د مغلي شهنشاهیت د زنځیر اخیري او کمزورې کړۍ ثابت شو، دغه د عروج او زوال زمانه د رحمان بابا د پیدائش او وفات زمانه ده، رحمان بابا د شاه جهان په دور کښې پیدا شوے او د اورنګزېب ټول دور ئې لیدلے دے، او بیا د شاه عالم او اعظم په دور کښې هم ژوندے ؤ، د رحمان بابا په خپل دیوان کښې هم د شاهجهان، دارا، اورنګزېب، شاه عالم او اعظم ذکر موجود دے، دلته دا هم یاد ساتل پکار دي چې د پښتو د مضبوط کلاسیکي ادب دا دور د اردو شاعرۍ ابتدائي دور دے، د اورنګزېب په اخري دور کښې هندوستان د انتشار په لاره قدم ایښے ؤ، مرکز منتشر ؤ، د تاریخ دغې کمزورې کړۍ باندې یورپي ملکونو اخري ګزار ته ځانونه سمولو، خو انګرېز زیات چالاک، مکار او طاقتور ؤ، او ایسټ انډیا کمپنۍ زیات مقبوضات لرل چې د اورنګزېب د مرګ نه پس ئې کار نور هم اسان شو، خانه جنګۍ، د اقتدار هوس او په هر لوري افراتفري او د مغل شهزادګانو عیاشۍ مغلیه سلطنت نور په هندوستان کښې قائم نۀ شو ساتلے، دغه د رحمان بابا عصر ؤ او دا ئې سیاسي، اقتصادي، سماجي او فکري منظرنامه وه، او دغه د هغۀ د شاعرۍ ماحول او زمینه وه"(21).

سلیم راز صاحب د دغو سیاسي حالاتو پوره جائزه اخستې ده او په خپله یوه مقاله "رحمان بابا د خپل وخت یو ترقي پسند شاعر او مفکر په حېث" کښې ئې د وړاندې ذکر شوو سیاسي حالاتو تجزیه د رحمان بابا د تاریخي شعور د بازګشت سره یو ځل بیا تکرار کړې ده او لیکلي ئې دي چې:

"رحمان بابا په ښۀ شان سره د خپلې زمانې د سیاسي او سماجي حالاتو او واقعاتو نه اګاه ؤ، یو عالم فاضل انسان ؤ، د ژور نظر څښتن او عظم مفکر ؤ، هغه د طبعیت په لحاظ یو امن پسند، مینه ناک، کرکې او نفرت نه پاك یو باعمله درویش صفته انسان ؤ، خو د هغۀ دور د سیاسي حالاتو او پېښو نه ئې چشم پوشي نۀ ده کړې او په ډاګه ئې وئیلي دي چې:

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور او پېښور درې واړه یو دي

بادشاهي او د مغلو دبدبه ئې له نظره هیڅ وه، او نۀ ئې د حاکمانو څخه څۀ وېره ترهه کېدله، ځکه خو ئې وئیل چې:

اورنګزېب او شاهجهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې نداف

د رحمان بابا د کلام د مطالعې نه معلومېږي چې هغه د ژوند د تقاضو او د وخت د غوښتنو څخه خبر ؤ، هغه دور د سیاسي انتشار یو داسې دور ؤ چې په ټول هندوستان کښې هلې ګولې وې، د مغلي واکدارانو د زر او زور پالیسۍ او د پښتنو قامي مبارزې د یو بل په ضد ښۀ په

درز کښې رواني وې، که هزار ځله رحمان بابا د جنګ او جدال مخالف او د امن او مينې علمبردار او پرستار ؤ خو د ژوند هغې هلو ځلو څخه ئې حان بېل کړے نۀ ؤ او نۀ ئې د مصلحت پسندۍ مهر په خولۀ لګولے خاموشي ئې اختيار کړې وه، هغۀ په جار د مغلو او خصوصاً د اورنګزېب د ظلم او زور، جبر او تشدد، استثمار، استحصال او استعمار چل او فرېب حربې کړلې دي"(22).

دغه قسمه ترقي پسندو دانشورو د رحمان بابا د دور طبقاتي ماحول ته هم د رحمان بابا د شاعرۍ په حواله اشارې کړې دي، چې تفصيلي بحث به پرې وروسته کولی شي، البته په دې موقع د يو بل پښتون ليکوال سحر يوسفزي په حواله د دې خبرې لړ نور وضاحت کوو چې وړاندې ورته موږ د سياسي حالاتو د تصوير کشۍ په لړ کښې د مير عبد الصمد خان په حواله اشارې کړې دي او د رحمان بابا سياسي مزاج مو د خوشحال بابا د سياسي ژوند سره په موازنه کښې ښودلے ؤ. مير عبد الصمد چې رحمان بابا لکه د خوشحال بابا غوندې د سياست د ميدان عملي غړے نۀ ګڼلو نو سحر يوسفزے ئې د سياسي شعور په ضمن کښې د خوشحال بابا سره يو ځای ذکر کوي او ورسره د هغۀ دور د سياسي حالاتو تذکره هم د رحمان بابا د افکارو په رڼا کښې کوي. سحر يوسفزے داسې وضاحت کوي:

"رحمان د خپل چاپېرچل شاعر دے، په هغۀ دا اعتراض کول چې هغۀ د دغه حالاتو د مقابلې دپاره مېدان ته د خوشحال په شانتې ولې نۀ دے راوتلے، بې ځايه دے، د دې اعتراض نه مخکښې مونږ له د رحمان په دور او د هغۀ دور په تحريکونو هم نظر ساتل پکار دے، دا ننې تحريکونه په هغه دور کښې نۀ وو او دا ما مخکښې ووئېل چې په هغه دور کښې د هرې کورنۍ او نسل د عمل دپاره کرښې مقررې وې، که خوشحال د مغلو د ظلمونو نه خلاف بغاوت کړے دے نو دا بغاوت خو يوسفزو د همېشه نه کاوۀ، او اېمل او دريا خان هم کړے ؤ، پير روښان او دغه شانتې نورو ډېرو خلقو کړے دے. د خانانو يا قامونو بغاوت خو په دغه زمانه کښې عامه خبره وه، ولې غريبانو لا هغه رڼا نۀ وه ليدلې چې د خپل حق دپاره بغاوت ئې کړے وے. د رحمان په دور کښې عوامو به هم بغاوت کاوۀ، هغوی به هم د غمونو دړدونو نه ځان خلاصول غوښتۀ، ولې د دې دپاره توره يا ټوپك به يې نۀ پورته کوو، ځکه چې معاشي ناقلارۍ د دوی شخصيت انفعالي Passive کړے ؤ، عملي شخصيت خو د خانانو جاګيردارانو ؤ، انفعالي شخصيت د باهرني اثر نه متاثره کېږي زيات، ولې په خپل شخصيت کښې داسې رنګ او برېښنا نۀ شي پيدا کولے چې خپله معاشره هم متاثره کړي"(23).

په دې خبره ګڼو دانشورو زور راوړے دے چې رحمان بابا سياسي سړے نۀ ؤ خو بيا هم په تاريخي تناظر کښې دغه ټول دانشور او ليکوال يوه خولۀ دي چې رحمان بابا د شاه جهان د دور نه پس د اورنګزېب عالمګير او بيا د شاه عالم او اعظم د دور سياسي حالاتو يادونه ضرور کوي. د اورنګزېب په وفات د رحمان بابا ليکلے نظم يا مرثيه د يو تاريخي دستاوېز په توګه وړاندې کوي چې په رحمان بابا د پي ايچ ډي ډګرۍ اخستونکي محقق ډاکټر نصير احمد صاحب هم په خپل انداز کښې دغه خبرې ته اشاره کړې ده او ليکلي ئې دي چې:

"سره د دې چې رحمان بابا د سياست سره جوړه نۀ وه، خو بيا هم د يو لوے او ستر حساس شاعر په حېث د خرابو حالاتو او کړکېچنو واقعاتو نه ئې سترګې نۀ شوې پټولے، بله دا چې په هند کښې د مسلمانانو د سياسي او اخلاقي زوال ابتدا هم د اورنګزېب د مغل بادشاهت په وخت کښې شوې وه"(24).

هم دغه ليکوال ډاکټر نصير احمد په خپل کتاب "د رحمان بابا پېغام" کښې د دغو مغلي بادشاهانو ادوار ښائي ورسره د پېښنور په خصوصي توګه او د هند په عمومي توګه سياسي حالات څرګندوي او بيا په مثال کښې د رحمان بابا شعرونه وړاندې کوي چې يو طرفته هم هغه سياسي حالات څرګندوي چې مونږ ورته اشاره وکړه او بل طرفته د رحمان بابا د تاريخي شعور څرګندونه کوي. ډاکټر نصير احمد دغه حالات، سياسي واقعات او د پېښنور تاريخي تناظر د رحمان بابا د شعري مثالونو سره داسې ښائي:

"د رحمان بابا د ژوند زمانه د دۀ له دېوانه او له ځينو نورو تاريخي واقعاتو نه څرګندېږي، په دې حواله رحمان بابا د مغلو بادشاهانو لکه شاه جهان (1037- 1068هـ) معزول. اورنګزېب (1068 – 1118هـ) او شاه عالم اول (1119هـ - 1124هـ) په دور کښې د ژوندانۀ شپې او ورځې تېرې کړې دي چې دا نومونه د دۀ په دېوان کښې راغلي او بيان شوي دي:

"اورنګزېب او شاه جهان غوندې اشراف
صدقه شه تر منصور غوندې ننداف
که غلبېل کړم د تمامې دنيا خاوري
بيا به نۀ مومم دارا او شاه جهان
و دارا و اورنګزېب و ته حيران يم

چې ئې څۀ چارې واقع شولې تر میان
اوس نوبت د شاه عالم دے
دور اوطور ئې شو دیګر
شاه عالم اعظم وګوره چې ئې سخا کړ
په خونونو واړه ملك د هندوستان"(25)

ډاکټر نصیر احمد صاحب په خپل کتاب کښې د پېښور، هندوستان او د رحمان بابا د عهد ځینې سیاسي تحریکونو ته اشارې کوي او خپله خبره په دې توګه مخ په وړاندې بوځي:

"رحمان بابا د شاه جهان بادشاه د بادشاهۍ په اخیره کښې پیدا شوے دے په دې زمانه کښې پېښور او شا و خوا سیمې د مغلو په مرکزي حکومت پورې تړلې وې او مغلو به د بابر (932- 937هـ) نه نیولې بیا د شاه عالم پورې په پښتنو زور زیاتے ډېر کوو، په تېره بیا د جلال الدین اکبر او اونګزېب په وخت کښې حالات ډېر خراب شول، یو تر بله جنګ جګړې مرګ ژوبلې ډېرې وشوې او د اقتدار د ساتلو دپاره د پښتنو د ملي جرګو په مقابله کښې هلې ځلې زیاتې وې، دغې سیاسي کشمکش د پښتنو په معاشره ډېر بد اثر وغورزولو، او په باشعوره پښتنو کښې دا خیال "یا مغل د منځه ورك یا پښتون خوار" ډېر قوي شوے ؤ، او د رحمان بابا غوندې صوفي شاعر هم د مغلو د ناخوالو نه سر ټکولے دے، او د خپل زړۀ درد ئې د ظالمانو حاکمانو په مقابل کښې ښودلے. د دې متعلق رحمان بابا داسې وائي:

په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور او کور او پېښور درې واړه یو دي

که څۀ هم مغلو د هندوستان د ترقۍ دپاره ډېر کارونه کړي دي خو د پښتنو په مقابل کښې به یې د زور زیاتۍ نه کار اخستو، چې په تاریخي پاڼو کښې د روښانیانو ایمل خان مومند، دریا خان افرېدي او خوشحال خان خټك جګړې د مغلو سره دا ګواهي ورکوي چې د جګړو په نتیجه کښې د مغلو کمزورتیا او بیا د مغلو د سلطنت د زوال سبب جوړېږي"(26).

دغه دور سیاسي او سماجي حالات دومره د اهمیت وړ جوړ شو چې د رحمان بابا د شعر په تناظر کښې پرې ناقدانو او محققینو سترګې پټې نۀ کړے شوې او هر چا په خپل خپل انداز دغه تاریخي تناظر د رحمان بابا د شعر په حواله جوت کړو. مشر لیکوال ښاغلي مفلس دراني په خپله یوه مقاله کښې رحمان بابا د خپل دور د ناقد په حېث پېش کوي خو زیاته توجه د هغۀ د دور په همدغو بیان شوو سیاسي حالاتو راوړي او د رحمان بابا د ذکر شوو مشهورو شعرونو په وسیله داسې وایي:

"د اورنګزېب نه پس د مغلو زوال شروع شو ، ځای په ځای بغاوتونه، ملك کښې اړے ګړے، امن او امان نۀ ؤ، ځکه چې د اورنګزېب نه پس د هغۀ په اولاد کښې د باچاهۍ کولو هغه قابلیت نۀ ؤ هغوی خو نۀ د اورنګزېب غوندې منظم وو او نۀ د هغۀ غوندې دیندار وو، هغوی په خپل خیال کښې د هر کار علاج په زور کېږي، خو د هغوی دغه پالیسي سخته ناکامه شوله او هر څوك د هغوی مخالف شول، چې کله شاه عالم په تخت کښېناست او په هند کښې ئې په اولس ظلم او زیاتے شروع کړو نو رحمان بابا د هغۀ دغې ظلم او زیاتي ته داسې اشاره کوي:

اوس نوبت د شاه عالم دے
دور او طور ئې شو د ګر
شاه عالم اعظم وګوره چې ئې سخا کړو
په خونونو باندې ملك د هندوستان

د هغۀ وخت د عام معاشرې او اولس څۀ حال ؤ، رحمان بابا د هغې نقشه داسې را کاږي:

په هر کور کښې رنځوران راته پراتهٔ دي
لاس مي نهٔ رسي د هيچا په دوا

هغه د مغلو د دې دور ښهٔ جاج اخستلو هغه يو بې بصره او ناخبر مجذوب او صوفي نهٔ ؤ لکه څنګه چې د رحمان بابا متعلق عام خيال دے، هغه د خپل دور او عصر د هرې واقعې نه څان ښهٔ خبر ساتلے ؤ او په هغې ئې د خپل خيال او وس مطابق تنقيد او تبصره کړې ده"(27).

د خپل دور د سياسي حالاتو د تصوير کشئ په لړ کښې افغان سکالر حبيب الله رفيع چې د رحمان بابا د عصر د واقعاتو جاج اخلي نو د اورنګزېب عالمګير او پېښور د سياسي او سماجي ماحول سره سره ځينو نورو سياسي او تاريخي واقعاتو ته هم د رحمان بابا د شعر په رڼا کښې اشارې کوي. رفيع صاحب يوه مقاله "د رحمان بابا د عصر سياسي، اجتماعي او ادبي بڼه" د عنوان لاندې ليکلي دي چې په کښې وړومبے خو د بابر بادشاه د يادونې سره د هغهٔ د زوی همايون بيا د همايون د زوی اکبر او بيا د اکبر د زوی جهانګير يادونه کوي. په دغه بيان کښې هغه بيا د جهانګير د زوی شاه جهان دورِ حکومت ته اشاره کوي او د جهانګير نه پس د مغل سلطنت سياسي نقشه د رحمان بابا د شاعرئ په رڼا کښې را کاږي چې دغه لړ کښې رفيع صاحب د خپلې په وړومبئ برخه کښې داسې ليکي:

"د اولسمې پېړئ په دربمه لسيزه کښې شاه جهان د جهانګير زوی، هغه د اکبر زوی، هغه د همايون او هغه د بابر زوی د هند او پښتونخوا باچا شو، د دې باچا په وخت کښې د روښانيانو غورځنګ ختم شوے او د خوشحال خان ختټ غورځنګ لا نهٔ ؤ پېل شوے، همدا راز د مغلو د اقتدار جګړې هم کمې او غلې شوې وې او له سياسي نظره نسبتاً ارامه دوره وه، همدا وخت رحمان بابا هم په 1632 ميلادي کال د پېښور په بهادر کلي کښې دنيا ته راغے، رحمان بابا 26 کلن ؤ چې يو ځل بيا د ګډ وډئ او فتور دوره را منځ ته شوه، د شاه جهان زوی اورنګزېب کودتا وکړه، پلار ئې بندي کړ او خپل فاضل ورور داراشکوه ئې وواژهٔ، دهٔ د خپلې واکمنئ په دوره کښې له پښتنو سره د مغلو دښمنئ بيا تجديد کړې او په همدې پېښور کښې ئې د مغلو وفادار خوشحال خان ختټ زندان ته واچاوهٔ او له زندان نه تر را وتو وروسته د خوشحال بابا په خپل اصطلاح دے په سپينه ږيره پښتون شو او له مغلو سره ئې وسله واله جګړه پېل کړه، په دې حساب د رحمان بابا د زده کړې او ځوانئ دوره ارامه دوره وه، خو کله چې د رحمان بابا د فکري پوخوالي او تعمق دوره را ورسېده نو سياسي حالات ډېر کړکېچن شول، د اورنګزېب له خوا د کودتا په کولو سره د مغلو تر منځ د اقتدار په سر شخړې تودې شوې، د ايمل خان او دريا خان په صف باندې د خوشحال بابا په ورګډېدلو سره د مغلو او پښتنو دښمني تر پخوا حاده شوه او هم متاسفانه د پردو په لمسه د پښتنو تر منځ خپل منځي شخړې موجودې وې چې دې حالت د پښتونخوا او د هند د نيمې وچې سياسي وضعه ډېره کړکېچنه او ستونځمنه کړې وه، له بلې خوا درنو ماليو او لويو جاګيرونو د اولس د اقتصاد ملا ماته کړې وه، حکمرانان په عېش او نوش کښې ډوب وو او خلق له غربت او بېوسئ سره لاس او ګرېوان وو. د پښتنو خپل منځي تربګنئ او شخړې هم د اوج په مرحله کښې وې حتیٰ د رحمان بابا په خپل خېل مومندو کښې د ګل خان جمال خان دردوونکې پېښې د رحمان بابا د فکري ارامئ محيط هم له منځهٔ يووړ"(28).

دا د رحمان بابا د عصر هغه سياسي ماحول دے چې وړاندې ورته د نورو ليکوالو په حواله هم اشارې شوې دي خو د دغه پس منظر نه پس رفيع صاحب په خپله دغه ذکر شوې مقاله کښې د رحمان بابا د شاعرئ په ضمن کښې د تاريخي واقعاتو په تسلسل کښې يوه بله سياسي واقعه بيانوي چې وضاحت ئې په دې ډول دے:

"همدا راز د رحمان د ژوند په وروستيو کلونو کښې يوه بله لويه سياسي پېښه هم وشوه او هغه په لوېديځه پښتونخوا يعني کندهار کښې د مېرويس نيکهٔ له خوا د پښتنو د يو ازاد او خپلواک حکومت بنسټ ايښوول ؤ، ښکاري چې رحمان بابا له دې پېښې نه خبر شوے نهٔ وي خو د دهٔ روحاني قدرت په دې کاميابئ کښې درنه برخه درلوده ځکه چې مېرويس نيکهٔ د دهٔ په دېوان چې دا وخت په پښتنو کښې خور شوے ؤ، فال واچاوهٔ او دهٔ د ازادئ په لاره کښې د قدم اخستو داسې مشوره ورکړه:

چې اسمان يې مخ پټ کړے په سحاب ؤ
خدای و ما و ته ښکاره کړ هغه لمر بيا
چې رقيب راته تړلے په زنځير ؤ
خپل حبيب راباندې پرانست هغه ور بيا
په وصال ئې منت بار اوسه رحمانه!

---

په صدف کښې دخل نشته د ګوهر بیا

هو، رحمان بابا په داسې له سیاسي او اجتماعي نارامیو نه ډك محیط کښې سترګې وغړولې، هر څۀ ئې لمس کړل، درك ئې کړل، حس ئې کړل، ترې متاثر او پرې متاثر شو او همدا سبب دے چې د دۀ دا ژوند انځوروونکې وېنا دا نظریه ماتوي چې ځینې کسان رحمان بابا ته بې غرضه او ګوښه ګیر صوفي وائي، رحمان بابا صوفي ؤ، بې غرضه ؤ، خو ګوښه ګیر، بې طرفه او بې تفاوته نۀ ؤ، دۀ هرڅۀ ته په ځیر کتل هرڅۀ ئې په ځیر کتل او د خپل عصر د ناوړو سیاسي او اجتماعي اوضاعو او حالاتو انځور ګري او مصوري ئې کوله، نو ځکه مونږ په واز کومي او د واقعیت په رڼا کښې وئیلے شو چې رحمان بابا د خپل عصر یو لوی مفکر، حکیم، فیلسوف او پوهاند ؤ، په بشپړ بصیرت ئې اوضاع څارل، په ساده او عام فهمه ژبه ئې تصویرول او په پوه واقع بینۍ ئې مونږ ته را رسولي دي"(29).

دا هغه پس منظر دے چې د رحمان بابا د تاریخي شعور په اړه ئې یادونه بیا بیا کېږي او د هغۀ د عصر د سیاسي حالاتو جاج په کښې اخستلے کېږي، د دغو حوالو نه دا خبره ډېره په واضحه توګه مخې ته راځي چې رحمان بابا د یو داسې مجذوب صوفي په شکل وړاندې کول چې د تارك الدنیا صوفي درجه ورکړے شي، درسته خبره نۀ ده بلکې د هغۀ د شاعرۍ د ګڼ شمېر مثالونو او نمونو نه جوتېږي چې هغه د خپل دور یو وینښ او په حالاتو ژور نظر لرونکے شاعر ؤ چې ورسره ئې سیاسي بصیرت او تاریخي شعور هم ښۀ تېز او فعال ؤ، ځکه چې په شاعرۍ کښې ئې د انساني، اخلاقي، تصوفي، دیني او مذهبي پېغام سره د سیاسي او سماجي حالاتو نقشه هم ډېره په ښکاره ډول راښکلې ده، د همدغو سیاسي او سماجي حالاتو په ترجمانۍ کښې رحمان بابا د خپل دور د طبقاتي سیاست او سماجي ناانصافۍ تصور هم ډېر په څرګند ډول پېش کړے دے.

## حوالې


(1) السخاوی، شمس الدین محمد بن عبدالرحمان، تاریخ کی تاریخ (مترجمہ) ڈاکٹر سید محمد یوسف، اردو سائنس بورڈ لاہور، طبع دوئم، 2007ء، ص24.

(2) ایضاً، ص25.

(3) ایضاً، ص26.

(4) مبارک علی، ڈاکٹر، تاریخ شناسی، فکشن ہاؤس لاہور، 1993ء، ص17.

(5) ایضاً، ص17.

(6) ایضاً، ص20.

(7) ہارٹ لڈل، ہم تاریخ سے کیوں نہیں سیکھتے، (مترجمہ) ڈاکٹر مبارک علی، روہتاس بک سیریز لاہور، جولائی 1990ء، ص21.

(8) ایضاً، ص63.

(9) برق، سعد الله، جان، د پښتنو د تاریخ بنیادونه، پښتو اکېډمی کوټه، بلوچستان، 2019ء، ص10، 11.

(10) ایضاً، ص11، 12.

(11) حالی، الطاف حسین، خواجہ، مقدمہ شعر وشاعری، (مرتبہ پروفیسر محمد نواز طائر) پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، 1981ء، ص22.

(12) یوسفزے، سحر، ادب څۀ دے؟ عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور، 1947ء، ص69.

(13) خلیل، حنیف، تنقید په پښتو ادب کښې، غزنوي پبلشرز، کوټه، 2011ء، ص72.

(14) ایضاً، ص73.

(15) میر عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعر انسانیت، مکتبہ شاہین پشاور، نومبر 1974ء، ص152.

(16) رحمان بابا، کلیات، (مرتبه دوست محمد خان کامل مومند او قلندر مومند د چاپ ځای پېښور، 1984ء، ص83، 84.

(17) میر عبدالصمد خان، رحمان بابا شاعر انسانیت، ص155، 156.

(18) ایضاً، ص157.

(19) ایضاً، ص148.

(20) راز، سلیم، رحمان بابا یوه فکري مطالعه، یونیورسټي پبلشرز پېښور، 2013ء، ص20، 21.

(21) ایضاً، ص19، 20.

(22) ایضاً، ص56، 57.

(23) یوسفزے، سحر، د رحمان بابا په شاعرۍ او ژوند یو نظر، مشموله قدردان د شاعرانو، رحمان بابا، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی، 1998ء، ص105، 106.

(24) نصیر احمد، د رحمان بابا پیغام، وحدت پرنټنګ پریس پېښور اپریل 2004ء، ص137.

(25) ایضاً، ص135.

(26) ایضاً، ص136، 137.

(27) درانے، مفلس، د رحمان بابا تنقیدي شعور (مشموله رحمان پوهنه دریم جلد) رحمان ادبي جرګه پېښور، فروري 2005ء، ص67، 68.

(28) رفیع، حبیب الله، الحاج، د رحمان بابا د عصر سیاسي، اجتماعي او ادبي بڼه، مشموله رحمان پوهنه، رحمان ادبي جرګه پېښور، 1993ء، ص305، 306.

(29) ایضاً، ص307، 308.